**د پوهنې وزارت**

د تعلیمي نصاب، د ښوونکو د روزنې
او د ساینس د مرکز معینیت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي
کتابونو د تالیف لوی ریاست

# اسلامي ښوونه او روزنه

## جعفري مذهب

### څلورم ټولگی

پـه
ه. له

د چاپ کال: ۱۳۹۰ هـ . ش.

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پوهنې وزارت
د تعليمي نصاب، د ښوونکو د روزنې
او د ساينس د مرکز معينيت
د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي
کتابونو د تاليف لوی رياست

# د قرآن کريم زده کړه
# او
# اسلامي ښوونه او روزنه
## جعفري مذهب
### څلورم ټولګی

د چاپ کال: ۱۳۹۰ هـ . ش.

## ليكونكي:

١. محمد عزيز بختياری.
٢. سيد عبدالوهاب رحماني
٣. يار محمد باقري
٤. دين محمد جاويد

## د تدقيق كميټې:

## د پوهنې وزارت علمي غړي:

محمد عزيز بختياری، محمدباقر جعفری، سيدعبدالوهاب رحمانی، يار محمد باقری، سيد محمد حسين فرهنګ او فاروق انصاری.

**د نورو اورګانو غړي:**

١. سيد حسين عالمي بلخي په ولسي جرګه كې د عدلی او قضايي كميسيون غړی.
٢. نعمت الله غفاري په ولسي جرګه كې د ښونې او روزنې او عالي تحصيلاتو د ديني كميسيون غړی.
٣. مولوي عبدالعزيز په ولسي جرګه كې د ښونې او روزنې، عالي تحصيلاتو او د دينی كميسيون غړی.
٤. قاضي نذير احمد حنفي په ولسي جرګه كې د تقنين د كميسيون معاون.
٥. سيد عبداللطيف سجادی، د افغانستان د شيعه علماوو د شورا غړی.
٦. مولوي عين النعيم د علماوو سراسری شورا غړی.

**فرهنګي سياسي كميټه:** د مؤلف مرستيال محمد سهراب ديدار د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي كتابونو د تأليف رياست علمي او مسلكي غړی.

## د مطالبو فهرست

### د قرآن كريم زده كړه

د قرآن كريم زده كړه ........ ١-١٠

### د اسلامي ښونې او روزنې مضمون

لومړی فصل: عقايد ........ ١١-٢٤
دويم فصل: احكام ........ ٢٥-٤٠
دريم فصل: آداب او اخلاق ........ ٤١-٥٥



(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم



(c) ketabton.com: The Digital Library

**بسم الله الرحمن الرحیم**

**د پوهنې د وزير پيغام**

**ګرانو ښوونکو او زده کوونکو،**

ښوونه او روزنه د هر هېواد د پراختيا او پرمختګ بنسټ جوړوي. تعليمي نصاب د ښوونې او روزنې مهم توکی دی چې د علمي پرمختګ او ټولنې د اړتياوو له مخې رامنځته کيږي. څرګنده ده چې علمي پرمختګ او ټولنيزې اړتياوې تل د بدلون په حال کې وي. له دې امله لازمه ده چې تعليمي نصاب هم علمي او رغنده انکشاف ومومي. البته نه ښايي چې تعليمي نصاب د سياسي بدلونونو او د اشخاصو د نظريو او هيلو تابع شي.

دا کتاب چې نن ستاسو په لاس کې دی، پر همدې ارزښتونو چمتو او ترتيب شوی دی. علمي ګټورې موضوعګانې پکې زياتې شوې دي. د زده کړې په بهير کې د زده کوونکو فعال ساتل د تدريسي پلان برخه ګرځيدلې ده.

هيله من يم دا کتاب له لارښوونو او تعليمي پلان سره سم د فعالې زده کړې د ميتودونو د کارولو له لارې تدريس شي او د زده‌کوونکو ميندې او پلرونه هم د خپلو لوڼو او زامنو په باکيفيته ښوونه او روزنه کې پرله پسې ګډه مرسته وکړي چې د پوهنې د نظام هيلې ترسره شي او زده‌کوونکو او هېواد ته ښې برياوې ور په برخه کړي.

زه پر دې ټکي پوره باور لرم چې زموږ ګران استادان او ښوونکي د تعليمي نصاب په رغنده پلي کولو کې ستره دنده او دروند مسؤوليت لري.

د پوهنې وزارت تل زيار کاږي چې د پوهنې تعليمي نصاب د اسلام د سپيڅلي دين له بنسټونو، د وطن دوستی د پاک حس په ساتلو او علمي معيارونو سره سم د ټولنې د څرګندو اړتياوو له مخې پراختيا ومومي.

په دې ډګر کې د هېواد له ټولو علمي شخصيتونو، د ښوونې او روزنې له پوهانو او د زده‌کوونکو له ميندو او پلرونو څخه هيله لرم چې د خپلو نظريو او رغنده وړانديزونو له لارې زموږ له مؤلفانو سره د درسي کتابونو په لا ښه تاليف کې مرسته وکړي.

له ټولو هغو پوهانو څخه چې ددې کتاب په چمتو کولو او ترتيب کې يې مرسته کړې، له ملي او نړيوالو درنو موسسو، او نورو ملګرو هېوادونو څخه چې د نوي تعليمي نصاب په چمتو کولو او تدوين او د درسي کتابونو په چاپ او وېش کې يې مرسته کړې ده، مننه او درناوی کوم.

ومن الله التوفيق

فاروق وردګ

د افغانستان د اسلامي جمهوريت د پوهنې وزير



(c) ketabton.com: The Digital Library

# د قرآن کریم د زده کړې مضمون
## د حفظ کولوبرخه (۱)

لومړی لوست:

## دفاتحې سورت (حفظ, تلاوت اوتجوید)

أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنْ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ ﴿١﴾
الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿٢﴾ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ ﴿٣﴾
مَالِكِ يَوْمِ الدِّينِ ﴿٤﴾ إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ
﴿٥﴾ اهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ ﴿٦﴾ صِرَاطَ الَّذِينَ أَنْعَمْتَ
عَلَيْهِمْ غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّينَ ﴿٧﴾

دویم لوست:

## د الاخلاص سورت (حفظ, تلاوت او تجوید)

أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنْ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ
قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ ﴿١﴾ اللَّهُ الصَّمَدُ ﴿٢﴾ لَمْ يَلِدْ وَلَمْ
يُولَدْ ﴿٣﴾ وَلَمْ يَكُنْ لَهُ كُفُوًا أَحَدٌ ﴿٤﴾



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

دریم لوست:

## د الفلق سورت (حفظ, تلاوت او تجوید)

أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنْ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○
قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ ① مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ ② وَمِنْ شَرِّ غَاسِقٍ اِذَا
وَقَبَ ③ وَمِنْ شَرِّ النَّفّٰثٰتِ فِى الْعُقَدِ ④ وَمِنْ شَرِّ حَاسِدٍ اِذَا حَسَدَ ⑤

ځلورم لوست:

## د الناس سورت (حفظ, تلاوت او تجوید)

أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنْ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○
قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ النَّاسِ ① مَلِكِ النَّاسِ ② اِلٰهِ النَّاسِ ③
مِنْ شَرِّ الْوَسْوَاسِ ۙ الْخَنَّاسِ ④ الَّذِىْ يُوَسْوِسُ فِىْ
صُدُوْرِ النَّاسِ ⑤ مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ ⑥

## د تلاوت برخه (۱)

پنځم لوست :

## دالعلق سورت له (۱______۵) آیتونه (تلاوت او تجوید)

أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنْ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○
اِقْرَاْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِىْ خَلَقَ ① خَلَقَ الْاِنْسَانَ مِنْ عَلَقٍ ②
اِقْرَاْ وَرَبُّكَ الْاَكْرَمُ ③ الَّذِىْ عَلَّمَ بِالْقَلَمِ ④ عَلَّمَ الْاِنْسَانَ مَا
لَمْ يَعْلَمْ ⑤

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپږم لوست :

## د العلق سورت له (۲___۱۲) آیتونه (تلاوت او تجوید)

كَلَّآ إِنَّ الْإِنسَانَ لَيَطْغَىٰٓ ﴿٦﴾ أَن رَّآهُ اسْتَغْنَىٰٓ ﴿٧﴾ إِنَّ
إِلَىٰ رَبِّكَ الرُّجْعَىٰٓ ﴿٨﴾ أَرَءَيْتَ الَّذِى يَنْهَىٰ ﴿٩﴾ عَبْدًا إِذَا صَلَّىٰٓ ﴿١٠﴾
أَرَءَيْتَ إِن كَانَ عَلَى الْهُدَىٰٓ ﴿١١﴾ أَوْ أَمَرَ بِالتَّقْوَىٰٓ ﴿١٢﴾

اووم لوست:

## د العلق سورت له (۱۳______۱۹) آیتونه (تلاوت او تجوید)

أَرَءَيْتَ إِن كَذَّبَ وَتَوَلَّىٰٓ ﴿١٣﴾ أَلَمْ يَعْلَم بِأَنَّ اللَّهَ يَرَىٰ ﴿١٤﴾ كَلَّا
لَئِن لَّمْ يَنتَهِ لَنَسْفَعًۢا بِالنَّاصِيَةِ ﴿١٥﴾ نَاصِيَةٍ كَاذِبَةٍ خَاطِئَةٍ ﴿١٦﴾
فَلْيَدْعُ نَادِيَهُۥ ﴿١٧﴾ سَنَدْعُ الزَّبَانِيَةَ ﴿١٨﴾ كَلَّا لَا تُطِعْهُ وَاسْجُدْ
وَاقْتَرِب ۩ ﴿١٩﴾

اتم اونهم لوستونه:

## د التین سورت (تلاوت او تجوید)

أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنْ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ
وَالتِّيْنِ وَالزَّيْتُوْنِ ① وَطُوْرِ سِيْنِيْنَ ② وَهٰذَا الْبَلَدِ الْاَمِيْنِ ③
لَقَدْ خَلَقْنَا الْاِنْسَانَ فِيْٓ اَحْسَنِ تَقْوِيْمٍ ④ ثُمَّ رَدَدْنٰهُ اَسْفَلَ
سٰفِلِيْنَ ⑤ اِلَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ فَلَهُمْ اَجْرٌ غَيْرُ مَمْنُوْنٍ ⑥
فَمَا يُكَذِّبُكَ بَعْدُ بِالدِّيْنِ ⑦ اَلَيْسَ اللّٰهُ بِاَحْكَمِ الْحٰكِمِيْنَ ⑧

لسم اویوولسم لوستونه:

## د الشرح سورت (تلاوت او تجوید)

أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنْ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ
اَلَمْ نَشْرَحْ لَكَ صَدْرَكَ ① وَوَضَعْنَا عَنْكَ وِزْرَكَ ②
الَّذِيْٓ اَنْقَضَ ظَهْرَكَ ③ وَرَفَعْنَا لَكَ ذِكْرَكَ ④ فَاِنَّ مَعَ
الْعُسْرِ يُسْرًا ⑤ اِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا ⑥ فَاِذَا فَرَغْتَ فَانْصَبْ ⑦
وَاِلٰى رَبِّكَ فَارْغَبْ ⑧



(c) ketabton.com: The Digital Library

دولسم او دیارلسم لوستونه :

## د الضحی سورت (تلاوت او تجوید)

أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنْ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○
وَالضُّحٰى ① وَالَّيْلِ اِذَا سَجٰى ② مَا وَدَّعَكَ رَبُّكَ وَمَا قَلٰى ③
وَلَلْاٰخِرَةُ خَيْرٌ لَّكَ مِنَ الْاُوْلٰى ④ وَلَسَوْفَ يُعْطِيْكَ رَبُّكَ
فَتَرْضٰى ⑤ اَلَمْ يَجِدْكَ يَتِيْمًا فَاٰوٰى ⑥ وَوَجَدَكَ ضَآلًّا
فَهَدٰى ⑦ وَوَجَدَكَ عَآئِلًا فَاَغْنٰى ⑧ فَاَمَّا الْيَتِيْمَ فَلَا تَقْهَرْ ⑨
وَاَمَّا السَّآئِلَ فَلَا تَنْهَرْ ⑩ وَاَمَّا بِنِعْمَةِ رَبِّكَ فَحَدِّثْ ⑪

## د حفظ کولو برخه (۲)

څوارلسم لوست :

## د تبّت سورت (حفظ, تلاوت او تجوید)

أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنْ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○
تَبَّتْ يَدَآ اَبِيْ لَهَبٍ وَّتَبَّ ① مَآ اَغْنٰى عَنْهُ مَالُهٗ وَمَا
كَسَبَ ② سَيَصْلٰى نَارًا ذَاتَ لَهَبٍ ③ وَّامْرَاَتُهٗ حَمَّالَةَ
الْحَطَبِ ④ فِيْ جِيْدِهَا حَبْلٌ مِّنْ مَّسَدٍ ⑤



(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځلسم لوست:

## د النصر سورت (حفظ, تلاوت او تجوید)

أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنْ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ
إِذَا جَاءَ نَصْرُ اللَّهِ وَالْفَتْحُ ① وَرَأَيْتَ النَّاسَ يَدْخُلُونَ فِي دِينِ
اللَّهِ أَفْوَاجًا ② فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَاسْتَغْفِرْهُ إِنَّهُ كَانَ تَوَّابًا ③

شپاړسم لوست:

## د الکوثر سورت: (حفظ, تلاوت او تجوید)

أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنْ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ
إِنَّا أَعْطَيْنَاكَ الْكَوْثَرَ ① فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ ② إِنَّ شَانِئَكَ هُوَ الْأَبْتَرُ ③

اوو لسم لوست:

## د الکافرون سورت (حفظ, تلاوت او تجوید)

أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنْ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ
قُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُونَ ① لَا أَعْبُدُ مَا تَعْبُدُونَ ②
وَلَا أَنْتُمْ عَابِدُونَ مَا أَعْبُدُ ③ وَلَا أَنَا عَابِدٌ مَا عَبَدْتُمْ ④ وَ
لَا أَنْتُمْ عَابِدُونَ مَا أَعْبُدُ ⑤ لَكُمْ دِينُكُمْ وَلِيَ دِينِ ⑥



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

اته لسم لوست:

## د الماعون سورت (حفظ, تلاوت او تجوید)

أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنْ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○
اَرَءَيْتَ الَّذِيْ يُكَذِّبُ بِالدِّيْنِ ① فَذٰلِكَ الَّذِيْ يَدُعُّ الْيَتِيْمَ ② وَ
لَا يَحُضُّ عَلٰى طَعَامِ الْمِسْكِيْنِ ③ فَوَيْلٌ لِّلْمُصَلِّيْنَ ④ الَّذِيْنَ هُمْ عَنْ
صَلَاتِهِمْ سَاهُوْنَ ⑤ الَّذِيْنَ هُمْ يُرَآءُوْنَ ⑥ وَيَمْنَعُوْنَ الْمَاعُوْنَ ⑦

نولسم لوست :

## د قریش سورت (حفظ، تلاوت او تجوید)

أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنْ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○
لِاِيْلٰفِ قُرَيْشٍ ① اٖلٰفِهِمْ رِحْلَةَ الشِّتَآءِ وَالصَّيْفِ ② فَلْيَعْبُدُوْا
رَبَّ هٰذَا الْبَيْتِ ③ الَّذِيْٓ اَطْعَمَهُمْ مِّنْ جُوْعٍ وَّاٰمَنَهُمْ مِّنْ خَوْفٍ ④

شلم لوست :

## د الفیل سورت (حفظ، تلاوت او تجوید)

أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنْ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ۝
أَلَمْ تَرَ كَيْفَ فَعَلَ رَبُّكَ بِأَصْحٰبِ الْفِيْلِ ۝١ أَلَمْ يَجْعَلْ
كَيْدَهُمْ فِيْ تَضْلِيْلٍ ۝٢ وَّأَرْسَلَ عَلَيْهِمْ طَيْرًا أَبَابِيْلَ ۝٣
تَرْمِيْهِمْ بِحِجَارَةٍ مِّنْ سِجِّيْلٍ ۝٤ فَجَعَلَهُمْ كَعَصْفٍ مَّأْكُوْلٍ ۝٥

## دتلاوت برخه(۲)

یو ویشتم لوست :

### د الشمس سورت له (۱___۱۰) آیتونه (، تلاوت او تجوید)

أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنْ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ۝
وَالشَّمْسِ وَضُحٰهَا ۝١ وَالْقَمَرِ إِذَا تَلٰهَا ۝٢ وَالنَّهَارِ إِذَا
جَلّٰهَا ۝٣ وَالَّيْلِ إِذَا يَغْشٰهَا ۝٤ وَالسَّمَآءِ وَمَا بَنٰهَا ۝٥
وَالْأَرْضِ وَمَا طَحٰهَا ۝٦ وَنَفْسٍ وَّمَا سَوّٰهَا ۝٧ فَأَلْهَمَهَا فُجُوْرَهَا
وَتَقْوٰهَا ۝٨ قَدْ أَفْلَحَ مَنْ زَكّٰهَا ۝٩ وَقَدْ خَابَ مَنْ دَسّٰهَا ۝١٠



(c) ketabton.com: The Digital Library

دوه ویشتم لوست:

## د الشمس سورت له ( ۱۱ ــــ ۱۵ آیتونه (تلاوت او تجوید)

كَذَّبَتْ ثَمُودُ بِطَغْوٰىهَآ ⑪ إِذِ انْۢبَعَثَ أَشْقٰىهَا ⑫ فَقَالَ لَهُمْ
رَسُولُ اللّٰهِ نَاقَةَ اللّٰهِ وَسُقْيٰهَا ⑬ فَكَذَّبُوهُ فَعَقَرُوهَا فَدَمْدَمَ
عَلَيْهِمْ رَبُّهُمْ بِذَنْۢبِهِمْ فَسَوّٰىهَا ⑭ وَلَا يَخَافُ عُقْبٰهَا ⑮

در ویشتم لوست:

## داللیل سورت له ( ۱ ــــ ۷ ) آیتونه (, تلاوت او تجوید)

أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنْ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ
وَالَّيْلِ إِذَا يَغْشٰى ① وَالنَّهَارِ إِذَا تَجَلّٰى ② وَمَا خَلَقَ الذَّكَرَ
وَالْأُنْثٰىٓ ③ إِنَّ سَعْيَكُمْ لَشَتّٰى ④ فَأَمَّا مَنْ أَعْطٰى وَاتَّقٰى ⑤
وَصَدَّقَ بِالْحُسْنٰى ⑥ فَسَنُيَسِّرُهُ لِلْيُسْرٰى ⑦

ثلیرویشتم لوست:

## داللیل سورت له ( ۸ ــــ ۱۳ ) آیتونه (تلاوت او تجوید)

وَأَمَّا مَنْ بَخِلَ وَاسْتَغْنٰى ⑧ وَكَذَّبَ بِالْحُسْنٰى ⑨
فَسَنُيَسِّرُهُ لِلْعُسْرٰى ⑩ وَمَا يُغْنِي عَنْهُ مَالُهُٓ إِذَا تَرَدّٰى ⑪
إِنَّ عَلَيْنَا لَلْهُدٰى ⑫ وَإِنَّ لَنَا لَلْآخِرَةَ وَالْأُولٰى ⑬



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځه ویشتم لوست:

**د اللیل سورت له ( ۱۴___۱۲ ) آیتونه (تلاوت او تجوید)**

فَأَنذَرْتُكُمْ نَارًا تَلَظَّىٰ ﴿١٤﴾ لَا يَصْلَاهَا إِلَّا الْأَشْقَى ﴿١٥﴾
الَّذِي كَذَّبَ وَتَوَلَّىٰ ﴿١٦﴾

شپږ ویشتم لوست :

**د اللیل سورت له ( ۱۷_____۲۱ ) آیتونه (تلاوت او تجوید)**

وَسَيُجَنَّبُهَا الْأَتْقَى ﴿١٧﴾ الَّذِي يُؤْتِي مَالَهُ يَتَزَكَّىٰ ﴿١٨﴾
وَمَا لِأَحَدٍ عِندَهُ مِن نِّعْمَةٍ تُجْزَىٰ ﴿١٩﴾ إِلَّا ابْتِغَاءَ وَجْهِ
رَبِّهِ الْأَعْلَىٰ ﴿٢٠﴾ وَلَسَوْفَ يَرْضَىٰ ﴿٢١﴾

**دحفظ اوتلاوت برخې ته مراجعه**

اووه ویشتم لوست:

**د حفظ شویو اوتلاوت شویو سورتونو تکرار.**

# لومړی برخه: عقـــاید

لومړی لوست

## د نړۍ پیدا کوونکی

**موخه**: د نړۍ د پیدا کوونکي پیژندل.

**پوښتنې**:

۱. آیا فکر مو کړی دی، چې نړۍ څومره لویه ده؟
۲. آیا پوهېږئ، چې دغه لویه نړۍ چا پیدا کړې ده؟

د الله تعالی د پیژندنې لپاره تر ټولو آسانه او غوره لاره د هغه په مخلوقاتو کې غور کول دي. لکه څرنګه چې انسان کله یو لوی او پیچلی ماشین ووینې نودې خبرې ته متوجه کیږي چې د دغه ماشین جوړوونکی یو لائق او تکړه انجینر دی. همدارنګه کله چې د طبیعي شیانو یو لوی یا ښایسته شي ته وګوري فکر کوي او متوجه کیږي چې د دغو شیانو جوړوونکی ډیر پوه، حکیم او عالم ذات دی.

**د مثال په ډول**: کله چې د الله تعالی د مخلوق په توګه د انسان وړتیاوو ته ځیر کیږو ګورو چې انسان یو ډیر پیچلی او د ډول ډول وړتیاوو لرونکی موجود دی، کله چې انسان د پرمختللو بشري مصنوعاتو سره پرتله کړو نو د انسان نورې وړتیاوې هم راته څرګندیږي.

**د مثال په ډول**: کمپیوټر د انسان د ډیرو مهمو اختراعګانو څخه دی، ډیر کارونه سر ته رسوي، ګڼ شمیر معلومات تجزیه کوي او څېړي یې. کمپیوټر د معلوماتو په څیړلو او تجزیه کولو کې ډیره وړتیا لري خو په موږ کې داسې وړتیاوې شته چې له کمپیوټر څخه ډیرې پرمختللې دي. کمپیوټر یوازې هغه کارونه سرته رسوي چې د هغو امر ورته شوی وي، په داسې حال کې چې د انسان داخلي قواوې



(c) ketabton.com: The Digital Library

داسې پیچلي او حیرانوونکي کارونه سرته رسوي چې کمپیوټر د هغو کارونو په کولو هیڅ توان نه لري. انسان د عقل او ډول ډول داسې احساساتو لرونکی دی چې کمپیوټر او نور ماشینونه ورسره سیالي نه شي کولای.

کمپیوټر چې یو ډیر پیچلي ماشین دی په دې دلالت کوي چې جوړونکی یې ډیر ماهره او تکړه انجنیر دی، نو دغه نړۍ دخپل لوی والي او پیچلی توب سره پر دې دلیل دی چې پیدا کوونکی یې لوی عالم او قدرتمن ذات دی. هغه ذات چې دغه قوي، حیرانوونکي استعدادونه او وړتیاوې یې په موږ کې پیدا کړي دي.

الله تعالی قوي او عالم ذات دی، چې زموږ او د ټولو مخلوقاتو پیداکوونکی دی. انسان او نړۍ یې سره له دومره لوی والي ښایسته پیدا کړې ده.

## هڅونه:

۱. زده کوونکي دې لوست په غور ولولي او خپل نظرونه دې بیان کړي.

۲. زده کوونکي دې دکمپیوټر په ځای یوبل مثال بیان کړي.

## ارزونه:

۱. ښوونکی دې له زده کوونکو څخه پوښتنه وکړي چې د انسان استعدادونه او وړتیاوې څرنګه د الله تعالی په وجود باندې دلالت کوي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# د نړۍ یوازینی څښتن

**موخه**: دالله تعالی له یو والي سره آشنایي.

**پوښتنې**:

۱. آیا پوهیږئ چې الله تعالیٰ یو او یوازی دی؟
۲. آیا د الله تعالی د یو والي په معنیٰ باندې پوهیږئ؟

کله چې خپل شا و خوا ته وګورو نو د مخلوقاتو تر منځ عجیب او حیرانوونکی نظم وینو.

**د مثال په ډول**: ځمکه د لمر په شاو خوا راګرځي چې له هغې څخه د کال څلور فصلونه منځته راځي. په خپل محور باندې د ځمکې د ګرځیدلو له امله شپه او ورځ مینځ ته راځي. کله چې دلمر وړانګې ځمکې ته ورسیږي د سمندر یوه اندازه اوبه، چې په بخار بدلې شوې وي، په وریځ باندې بدلیږي. باد وریځې وچو سیمو ته وړي او له هغو څخه باران اوري دښتې او غرونه زرغونه وي.

حیوانات له اوبو او وښو څخه تغذیه کوي. ا نسان له اوبو، نباتاتو او حیواناتو څخه د غذا په ډول ګټه اخلي، چې د لمر، ځمکې، وریځې، باد اوډیرو نورو شیانو د مرستې په پایله کې منځ ته راغلي او لوی شوي دي.

سعدي صاحب چې د فارسي ژبې مشهور شاعر دی په دې اړه ویلي دي.

ابر و باد مه و خورشید وفلک همه درکارند　　　تاتو ناني به کف آری و به غفلت نخوری

**ژباړه**: وریځ، باد، سپوږمۍ، لمر او آسمان ټول لاس په کار دي چې تاسې خپله ډوډۍ په خپل لاس پیدا کړئ او په غفلت سره یې و نه خورئ.

دغه نظم او یو والی د هغه حیرانوونکي نظم یوه کوچنۍ برخه ده چې په نړۍ او زموږ په شاو خوا کې موجود دي.




(c) ketabton.com: The Digital Library

له دغـه نظـم او يـووالی څخه څه شی زده کـوو؟ د نـړۍ پـه موجوداتـو کـې نظـم پردې دليـل دی چې د نـړۍ پيـدا کـوونکی يـو دی، کـه چيـرې پـه نـړۍ کـې لـه يـو الله تعالی څخه پرته نور خدايان هم وای نو د هغو تر منځ اختلاف پيدا کيده او دنړۍ نظم به ګډوډيده . د هغه پيدا کوونکی او اداره کوونکی يوازې الله تعالی دی. الله تعـالی هم د نړۍ د پيدا کوونکي د يووالي لپاره په قرآن کريم کې د موجوداتو په نظم دليـل نيولی دی، لکه چې فرمايلی يې دی:

(لَوْ كَانَ فِيهِمَا آلِهَةٌ إِلَّا اللَّهُ لَفَسَدَتَا) د انبياء سورت ۲۲ آيت.

**ژباړه**: که چيرې په ځمکه او آسمان کې غيـر لـه الله تعـالی څخه بـل معبـود موجـود وای نو خامخا دواړه به ګډوډ شوی وو.

نو څرنګه چې په نړۍ کې نظم موجـود دی او ځمکـه او آسـمان ويجـاړ او خـراب شوی نه دي نو معلومه ده چی يـو الله تعـالی موجـود دی او پرتـه لـه هغـه څخـه بـل الله وجود نه لري.



**هڅونه:**

۱. لوست په ډېره ځيرکتيا سره مطالعه کړئ اولنډيز يې په پنځو کرښو کې وليکئ.
۲. د (لوکان.........) مبارک آيت حفظ کړئ او استدلال يې توضيح کړئ.
۳. د شعر معنی په دوو کرښو کې واضح کړئ.



**ارزونه:**

۱. د نړۍ نظم د ...........دليل دی.
۲. مبارک آيت وايي که چيرې څـو خدايان موجـود وای نـو نـړۍ بـه ويجـاړه او خرابـه شـوې وه اودا چـې نـن ورځ ځمکـه او آسـمان نـه دی ويجـاړ او خـراب شوي د دې معنی دا ده چې نو يوازې يو...........موجود دی.



(c) ketabton.com: The Digital Library

دریم لوست

# د الله تعالی صفتونه

**موخه**: د الله تعالی د صفتونو پیژندنه او د انسان په ژوند کې د هغو اثر.

**پوښتنې**:

۱. د الله تعالی د صفتونو له جملې څخه له کوم صفت سره آشنا یاست؟
۲. ستاسو په نظر د الله تعالی د صفتونو پیژندنه د انسان په ژوند باندې څرنګه اثر کوي؟

الله تعالی ، د ښو او ښکلو صفتونو او نومونو درلودونکی دی. الله تعالی عالم، لیدونکی، پیاوړی، ښنونکی او مهربان ذات دی. الله تعالی د ټولو کمالیه صفتونو لرونکی او له هر عیب او نیمګړتیا څخه پاک دی. کله چې موږ د الله تعالی صفتونه وپیژنو، زموږ علم او پوهه د الله تعالی په باره کې چې زموږ پیدا کوونکی او معبود دی زیاتیږي او د یقین مرحلې ته رسیږي.

همدا رنګه د الله تعالی د صفتونو پیژندنه د کمالاتو د پیژندنې په معنی ده چې له دې لارې موږ کولی شو د خپل کمال لپاره کوښښ وکړو.

د الله تعالی ځینې صفتونه داسې دي چې یوازې له الله تعالی سره ښایي. لکه یووالی مګر ډیر صفتونه د الله تعالی داسې دي چې انسان ور باندې ستایل کیدای شي. نو انسان باید کوښښ وکړي تر څو هغه په خپل ځان کې پیدا او تقویه کړي. له دې مخې د الله تعالی د صفتونو پیژندنه د دې سبب کیږي چې موږ هم باید په خپل ځان کې د هغو صفتونو د پیدا کولو او تقویه کولو په لټه او کوښښ کې واوسو.

**د بېلګې په توګه**: کله چې وپوهیږو الله تعالی عالم دی او همدا رنګه وپوهیږو چې علم د انسان د کمال سبب کیږي هغه وخت باید کوښښ وکړو او تر خپله توانه له علم څخه چې د کمال یو صفت دی خپل ځان برخمن کړو.



(c) ketabton.com: The Digital Library

دالله تعالی څو صفتونه دلته تر څیړنې لاندې نیسو.

۱. **بښل**: الله تعالی بښوونکی او (غفور) دی نو موږ هم باید کوښښ وکړو تر خپل توانه پورې د نورو تېر وتنې وبښو او ترې تېر شو.

۲. **مهرباني**:- الله تعالی مهربان او (رحیم) دی. نو موږ هم باید په نورو باندې مهرباني وکړو او د کینې او دښمنۍ ټول ډولونه له ځان څخه لرې کړو.

۳. **لیدل اوریدل**: الله تعالی پر ټولو عالم دی هر څه ویني او هر څه اوري. د الله تعالی له دغو صفتونو څخه موږ داسې پند او عبرت اخلو چې الله تعالیٰ زموږ ټول کارونه ویني او زموږ ټولې خبرې اوري، نو باید هر وخت کوښښ وکړو چې بد کار را څخه پیښ نه شي او هیڅ وخت ګناه ونه کړو. ځکه چې الله تعالی زموږ ټول اعمال ویني، آن تر دې چې زموږ نیت او فکر هم ویني البته دا باید په یاد ولرو چې دغه ذکر شوي صفتونه په الله تعالی کې په پوره او کامل ډول سره وجود لري مګر انسان د خپل توان په اندازه له هغو څخه برخمن کیږي.

**هڅونه**:

۱. د جومات د امام په مرسته د الله تعالی لس صفتونه ولیکئ او دا ووایئ چې موږ له هغو څخه څه پند اخلو.

۲. دا توضیح کړئ چې دالله تعالی د صفتونو پیژندنه زموږ لپاره څه ګټې لري؟

**ارزونه**:

۱. آیا زده کوونکو د الله تعالی د صفتونو مفهوم زده کړی دی؟

۲. آیا زده کوونکو د الله تعالی د صفتونو ګټې زده کړې دي؟



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پیغمبرانو ته دانسانانو اړتیا

**موخه**: پیغمبرانو(ع) ته د انسانانو په اړتیاوو باندې پوهېدل.

**پوښتنې**:

۱. ولې انسانان پیغمبرانو ته اړتیا لري؟
۲. پیغمبران کوم کارونه سرته رسوي؟

الله تعالی انسان ته فکر او عقل ورکړی دی. هغه ته يې په ډېرو موجوداتو غوره والی ورکړی دی. انسان د خپل عقل او فکر په واسطه کولی شي خپل ژوند په هغه ډول چې زړه يې غواړي جوړ کړي او خپلې ټولنيزې اړيکې په هغه ډول چې خوښوي يې تنظيم کړي.

انسانان د حيواناتو برعکس فکر کولای شي او له خپلو پخوانيو تجربو څخه د اوس او راتلونکی لپاره ګټه اخلي. انسانانو د خپلو دغو فوق العادة وړتياوو په برکت لوی تمدنونه جوړ کړی او دپام وړ علمي او صنعتي پر مختګونه يې کړي دي. څرنګه چې پوهيږو انسان هوا ته ځي نورو سياروته سپوږمکۍ ليږدوي. له کمپيوټر څخه چې د انسان په لاس جوړه شوی يوه پر مختللې دستګاه ده د ډيرو معلوماتو د څيړلو او د ډيرو کارونو د سرته رسولو لپاره ور څخه ګټه اخلي.

ستاسو په اند انسان کولی شي چې د خپل فکر او قوي عقل په سبب باندې په ټولو مشکلاتوبريالی شي او د بشر له لارښوونې پرته بلې لوړې لارښوونې ته اړتيا ونه لري؟ امکان لري چې ستاسو له جملې څخه ځينې په هو ځواب درکړي. مګر حقيقت داسې نه دی.

انسان سره له هغو ټولو پياوړ تياوو چې لري يې، خو بيا هم عقلي او فکري قوې يې ډيرې محدودې دي او د نړۍ په هکله يې معلومات ډير کم دي.

**د بېلګې په توګه:** انسانان د الله تعالی د پیغمبرانو له لارښوونې پرته نه شي کولی چې الله تعالی په سمه معنی سره وپیژني، یا له مرګ څخه وروسته بله نړۍ وپیژني. همدارنګه نه شي کولای د الله تعالی له دین څخه، چې د انسان د بریالي توب او نیکمرغۍ سبب کېږي پوره معلومات حاصل کړي.

له دې کبله انسان هر وخت د الله تعالی پیغمبرانو ته اړتیا لري ؛ تر څو الله تعالی خلکو ته په سم ډول وروپېژني، د الله تعالی دین سره له ټولو جزئیاتو خلکو ته تعلیم کړي او اخروي ژوندون خلکو ته وروپېژني.

**لنډیز:** انسانان الهي لارښوونې ته اړتیا لري تر څو د ژوند موخه او لاره خلکو ته وروپیژني چې دغه کار انسانان د خپل عقل او فکر په زور سرته نه شي رسولی.

**هڅونه:**

۱. زده کوونکي دې په پنځه کسیزو ګروپونو وویشل شي او لاندې جدول دې ډک کړي.

۲. پیغمبرانو ته د انسانانو د اړتیاو په باره کې خپل نظرونه وړاندې کړئ.

| د انسان پیاوړتیا | د انسان کمزوري |
|---|---|
| | |
| | |
| | |
| | |
| | |

**ارزونه:**

آیا زده کوونکي پیغمبرانو ته د انسانانو اړتیا درک کړې ده؟



(c) ketabton.com: The Digital Library

# د الهي پيغمبرانو دندې

**موخه**: د الهي پيغمبرانو له دندو سره آشنايي.

**پوښتنې**:

۱. ستاسې په نظر الله تعالی پيغمبران د څه لپاره رالېږلي دي؟
۲. که چېرې د خلکو په منځ کې پيغمبران نه وای څه به شوي و؟

تاسې هغه سړی په نظر کې ونيسئ، چې په سوځوونکي بيابان کی پـه لاره روان وي، ورځ هم پای ته نژدې وي او مسافر سړی تږی، وږی او ستومانه شوی وی. بده لا دا چې لاره يې هم ورکه کړې وي اونه پوهېږي چې په کوم لور لاړ شي. له ده سره د خوړلو او څښلو هېڅ داسې څيز نه وي، چې د هغو پـه مرستـه زياتـه لاره ووهي. لـه دې املـه بايد تر ټولو لنډه لاره کلي ته پيدا کړي پرته له هغې به د تندې او لوږې له لاسه د مرګ کندې ته لوېږي. لـه بلـه پلوه داهم کېداى شي، چې ځينې لارې ځنګلونو او يـا لويـو غرونو ته تللې وي چې هلته د ځيروونکو حيواناتو ويره موجوده وي.

نـو فکـر وکـړئ کـه پـه دغـه حالـت کـې يـو پـه آس سـپور سـړی لـه کـومې لارې راورسيږي او مسافر سړی ترې و پوښتي چې کلي ته تر ټولو نږدې او له ويرې څخه په امن لاره کومه ده؟

هغه په ځواب کې ور ته ووايي چې هغه کلي ته درسيدو په لاره کې يو لوی دريـاب دی، خو فکر کوه چې په درياب ورګډ نه شې ځکه چې يا خو بـه ډوب شې او يـا بـه دې تمساح وخوري بلکه په هغه پله باندې چې د فلانۍ ونې تر څنګ جوړ دی تېر شه.

کـه ښـه ځيـر شـو زمـوږ ټولـو انسـانانو حـال هـم د هغـه مـسافر پـه شـان دی. کـه پيغمبران نه وای نو انسانان نه پوهيـدل چـې لـه مـرګ څخـه وروسـته ژونـدون څرنګـه دی، او پـه دنيـا کـې بايـد څـه کـار وکـړي تـر څـو چـې د آخـرت ژونـدون يـې ښـه شـي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

پیغمبران د انسانانو لارښوونکي دي چې الله تعالی د انسانانو د لارښوونې لپاره رالیږلي دي. پیغمبران موږ ته وایي چې په دنیا کې باید کوم کارونه سرته ورسوؤ ترڅو هم په دنیا کې ښه ژوند ولرو او هم په آخرت کې د ښه ژوند خاوندان شو. د الهي پیغمبرانو له جملې څخه حضرت محمد (ص) تر ټولو وروستنی او غوره دی. حضرت محمد (ص) د الله تعالی له لوري څخه راغی تر څو انسانانو ته وښيي چې په دنیا کې څرنګه ژوند وکړي چې په دنیا او آخرت کې د ښه ژوند څښتن شي. حضرت محمد (ص) انسانانو ته د اسلام ښکاره دین بیان کړ هغه دین چې د الله تعالی د دینونو تر ټولو وروستی او تر قیامت پورې به باقي وي. دا دین د انسان د ژوند لپاره یو مکمل پروګرام دی چې که انسان له هغه څخه په ښه ډول پیروي وکړي نو په دنیا او آخرت کې به د ښه ژوند څښتن شي.

**هڅونه:**

۱. پورتنی لوست په لسو کرښو کې په لنډ ډول ولیکئ.
۲. د جومات د امام په مرسته په قرآن کریم کې داسې آیت پیدا کړئ چې د پیغمبرانو دندې بیانوي.

**ارزونه:**

۱. انسان د هغه مسافر په ډول دی چې لاره یې ورکه کړې وي. لکه................
۲. الهي پیغمبران انسانانو ته دا لارښوونه کوي چې په دنیا کې باید څه کارونه سرته ورسوي تر څو .......................
۳. د اسلام مبارک دین به تر .............. باقي پاتې وي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# د رحمت نبي

**موخه:** د الله تعالی د رسول (ص) له شخصیت سره آشنائي.

**پوښتنې:**

۱. موږ ته ولې د الله تعالی د رسول (ص) پیژندنه ضرور ده؟
۲. پیغمبر(ص) څرنګه د کوښښ نمونه وو؟

انسانان کمال ته درسیدلو لپاره لارښوونې ته اړتیا لري. د انسانیت تر ټولو غوره لارښوونکي د الله تعالی پیغمبران دي.

حضرت محمد (ص) چې د انبیاؤ څخه تر ټولو روستنی خو تر ټولو لوی پیغمبر دی، د ژوند په ټولو برخوکې دبشر لپاره بیلګه اومثال دی.

که چیرې انسانان په ځانګړې توګه مسلمانان، د نبي کریم(ص) له شخصیت څخه دبېلګې په ډول استفاده وکړي او هغه په خپل فردي او ټولنیز ژوند کې عملي کړي له دایمي نیکمرغۍ څخه به برخمن او هر وخت به بریالي وي.

د نبي کریم(ص) د شخصیت د ځانګړتیاوو له جملې څخه یو هم د نبي کریم(ص) کوښښ دی. حضرت محمد (ص) الهي او لوړو موخو ته د رسیدو لپاره ډیره پابندي او کوښښ کولو. د کوښښ په باره کې دنبي کریم(ص) دغې کیسې ته پاملرنه وکړئ. د مکې مشرکانو چې کله د نبي کریم(ص) د تبلیغاتو په مقابل کې خپل هر ډول کار بې ګټې ولید او په دې یې باور شو چې هیڅکله د اسلام د پرمختګ او پراخوالي مخه نه شي نیولی. دوی داسې خیال وکړ چې نبي کریم(ص) به هم زموږ په څیر غواړي چې مال او دنیوي مقام تر لاسه کړي تصمیم یې ونیو چې هغه (ص) ته پیسې او مقام مخکې کړي تر څو له خپلو تبلیغاتو څخه لاس واخلي. نو دمکې څو تنه قومي مشران د نبي کریم(ص) تره، ابوطالب ته راغلل او ورته ویې ویل، ای ابو طالبه! محمد ته ووایه که مال او دولت غواړي دومره دولت به ورکړو چې په قریشو



(c) ketabton.com: The Digital Library

کې له ټولو څخه مالدار شي. او که دبدبه او مقام غواړې د حجاز حکومت به دده په اختيار کې ورکړو. هره غوښتنه چې لري موږ تيار يو چې غوښتنه يې پوره کړو، خو د ټولو په بدل کې له ده څخه دا غوښتنه لرو چې له خپلې ادعا څخه لاس په سر شي او زموږ له بتانو سره کار ونه لري. ابو طالب د مکې د قومي مشرانو غوښتنې نبي کريم(ص) ته وړاندې کړې نبي کريم(ص) د هغوی په ځواب کې و فرمايل:

«په الله تعالی قسم کوم که لمر زما په ښي لاس او ځلانده سپوږمۍ زما په چپ لاس کې راکړي، يعنې د نړۍ ټول توان، دولت او ښايست ماته را وبښي بيا به هم له دغه الهي ماموريت څخه تر هغه لاس وا نه خلم تر څو په دې لاره کې برلاسی او يا شهيد شم. کاکا جانه! دغو خلکو ته ووايه چې د ذکر شويو وړانديزونو په ځای دي يوازې (لااله الاالله) ووايي تر څو په دنيا او آخرت کې بريالي شي.

د مکې بت پرستانو چې کله وليد، چې نبي کريم (ص) د دوی غوښتنو ته هيڅ ارزښت ورنه کړ نو په نبي کريم(ص) او دهغو په وفا دارو ملګرو يې خپلو ظلمونو ته زور ورکړ.

هغه پند او عبرت چې موږ يې د نبي کريم(ص) له دغه چلند څخه اخلو دا دی چې انسان بايد دالله تعالی په لاره کې هيڅ تنبلي او سستي و نه کړي. موږ مسلمانان دنده لرو چې د خپل برياليتوب لپاره له هر ډول امکاناتو څخه ګټه واخلو. موږ بايد خپلو لوړو او پاکو موخو ته د رسيدو په لاره کې سستي او تنبلي ونه کړو. موږ بايد له مشکلاتو سره د مخامخ کيدو په صورت کې نا اميده نه شو او خپلې موخې هيرې نه کړو.

**هڅونه:**

١. له پورتنۍ کيسې څخه څه پند او عبرت اخلئ؟ په پنځو کرښو کې يې وليکئ.

٢. تاسو خپلو موخو ته د رسيدو لپاره څه کارونه کوئ؟ د دريو څيزونو نو مونه واخلئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

اووم لوست

# خپل امامان باید وپیژنو

**موخه**: د امامانو له شخصیت سره آشنائي.

**پوښتنې**:

۱. آیا امام علی، امام حسن، امام حسین او امام زین العابدین پیژنئ؟
۲. د ذکر شویو امامانو د زیږیدنې نیټه درته معلومه ده؟

## امـــام عـــلي(رض):

امام علي د ابوطالب زوی او دنبي کریم(ص) د تره زوی او زوم دی.

مهربانه مور یې حضرت فاطمه د اسد لور ده. د فیل د کال څخه دیرش کاله وروسته د رجب د میاشتې په دیارلسم په کعبې شریفې کې زیږیدلی دی. امام علي د هجرت په څلوېښتم کال د رمضان د مبارکې میاشتې د نولسمې شپې په سهار د عبدالرحمن بن ملجم په لاس زخمي او دهمدې میاشتې په یو ویشتمه شپه یې د شهادت شربت وڅښه.

امام علي په علم، زړه ورتوب، تقوا، سخاوت او ټولو انساني کمالاتو کې بې ساري و.

## امـــام حـــسن:

امام حسن د امام علي(ع) او بې بې فاطمة الزهرا مشر زوی دی. امام حسن د هجرت په دریم کال په مدینه منوره کې د رمضان د مبارکې میاشتې په نیمایي کې د نیا ته سترګې وغړولې او دهجرت په پنځوسم کال د صفر په میاشت کې په شهادت ورسید.

په نبي کریم(ص) امام حسن او امام حسین ډیر زیات ګران و او د دوی په هکله یې فرمایلي دي: حسن او حسین د جنت د ځوانانو سرداران دي.

## امـــــام حـــــسين:

امام حسين د امام علي  او فاطمة الزهرا زوی او د امام حسن ورور دی.


امام حسين د هجرت په څلورم كال د شعبان د مياشتې په دريمه نيټه په مدينه منوره كې زيږيدلی دی. دهجرت په يو شپيتم كال د محرم د مياشتې په لسمه نيټه د كورنۍ له ټولو غړو او ملګرو سره د يزيد بن معاويه په لاس د كربلا پـه دښـته كې پـه شهادت ورسيد.

نبي كريم(ص) د امام حسين په هكله داسې فرمـايلي دي: حسين د هدايت او لارښوونې څراغ او د نجات كښتۍ ده.

## امام زين العابدين(رض):

د شيعيانو څلورم امام(پيشوا) حضرت علي زين العابدين دی.

امـام زيـن العابـدين د امـام حـسين زوی دی، چـې د هجـرت پـه ۳۸ كـال د مدينې منورې په پاک ښار كې يې دنيا ته سترګې غړولې دي. پـه ۵۷ كلنـۍ كـې پـه شـهادت رسيدلی دی. څرنګـه چـې امـام زيـن العابـدين ډيـر عبـادت كـاو پـه زيـن العابـدين(دعبـادت كوونكـو ښايـست) او پـه سـجاد(ډيـر سـجده كـوونكي) بانـدې مشهورو. امام سجاد ډيرې ښې دعاګـانې لـري او  پـه هغـه كتـاب كـې راټـولی كـړای شوې چې د «صحيفه سجاديه» په نامه يادېږي او اوس هم شته  دی.



**هڅونه:**

۱. د لوست لنډيز  په لسو كرښو كې وليكئ.

۲. زده كـوونكي دې د څوكـسيزو ګروپونـو پـه تـرځ كـې د لوسـت د موضـوع پـه هكله خبرې وكړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دويم فصل: فقهي احکام

اتم لوست

## د تيمم د رواوالي ځايونه

**موخه**: د هغو ځايونو پيژندنه چې تيمم په کې روا دی.

**پوښتنې**:

۱. که اوبه ونه لرو چې اودس پرې وکړو نو څرنګه به لمونځ کوو؟
۲. په کومو ځايونو کې د اوداسه په ځای تيمم کولی شو؟

د اسلام مبارک دين دآسانۍ دين دی او الله تعالی هيڅکله نه غواړي چې خپل بندګان له سختۍ سره مخامخ کړي. ځينې احکام او قوانين د ځينو شرايطو په وخت کې د بندګانو د اسانۍ له پاره بدلون مومي.

**مــثلاً**: الله تعالی امر کړی دی چې کله انسان اوبه پيدا نه کړای شي او يا له اوبو څخه استفاده ورته زيان او ضرر رسوي، نو په دې صورت کې بنده کولی شي چې داوداسه او يا غسل په ځای په پاکو خاورو باندې تيمم ووهي. په دې لوست کې دا زده کوو چې په کومو وختونوکې د اوداسه او يا غسل په ځای تيمم ووهو، او په وروستني لوست کې به دا زده کړو چې تيمم څرنګه وکړو. هغه ځايونه چې د اوداسه او يا غسل په ځای باندې بايد تيمم ووهل شي عبارت دی له:

۱. **د اوبو نشتوالی**: که له پلټنې او کوښښ څخه وروسته مو هم او به پيدا نه کړې چې په هغو اودس او يا غسل وکړو نو کولی شو چې تيمم ووهو.
همدارنګه که د اوبو په پيدا کولو کې سختي وه بيا هم تيمم وهلی شو.

۲. **د اوبو داستعمال زيان**: که له اوبو څخه ګټه اخستل او استعمال يې زموږ د بدن لپاره زيان رسوي، بايد تيمم ووهو.

۳. **د اوبو شته والی مګر هغه ته د ښځلو اړتیا:**- که یوه اندازه اوبه ولرو او اودس پرې وکړو، نو له تندې سره لاس او ګریوان کیږو. په دې صورت کې هم باید تیمم ووهو.

۴. **د مناسب وخت نه لرل:** که داوداسه او غسل لپاره کافي او پوره وخت ونه لرو، باید تیمم ووهو.

۵. که اوبه د بل چا مال وي او د لاس وهل په کې ناروا وي، نو باید تیمم ووهو.

په پورتنیو یاد شویو وختونو کې باید له اوبو څخه د ګټې اخیستلو په ځای په خاورو باندې تیمم ووهو او له هغه وروسته لمونځ وکړو.

**هڅوني:**

۱. دوه داسې مثالونه بیان کړئ چې د اوبو استعمال په کې زیان رسوي.

۲. له مور او پلار څخه مو وپوښتئ چې له پورتنیو یاد شویو ځایونو څخه له کوم یوه سره مخامخ شوي دي؟

**ارزونه:**

۱. که ..........وخت و نه لرو نو د اوداسه په ځای تیمم وهو؟

۲. د زده کوونکو څخه دې څو کسان پورتني پنځه ځایونه په نوبت سره له یاده ووایي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# څرنګه تیمم کوو؟

**موخه**: د تیمم د څرنګوالي زده کړه.

**پوښتنې**:

۱. آیا تر اوسه مو تیمم کړی او یا مو بل څوک لیدلي چې تیمم کوي؟

۲. څرنګه باید تیمم وکړو؟

په مخکیني لوست کې مو هغه وختونه، چې د اوداسه یا غسل په ځای تیمم وهو، زده کړل، په دې لوست کې د تیمم د کولو طریقه زده کوو.

۱. اول نیت تړو چې د الله تعالی د خوښۍ لپاره د اوداسه یا غسل په ځای تیمم کوو.

۲. خپل دواړه لاسونه د خاورې یا تیږې او یا لوټې په مخ باندې ږدو.

۳. دواړه لاسونه په خپله ټنډه او دواړو لوریو یې د ویښتانو له شنه کیدو څخه تر ورځو پورې او ږیرې له پاسه راکاږو

۴. د چپ لاس په ورغوي د ښي لاس شاله مړوند څخه د ګوتو تر سرونو پورې راکاږو.

۵. د ښي لاس ورغوي باندې د چپ لاس شاله مړوند څخه د ګوتو تر سرونو پورې را کاږو.

۶. باید په یاد ولرو چې تیمم په خاوره، شګه، تیږه او لوټه روا دی. هغه شی چې په هغو تیمم وهو باید پاک وي او غصب شوي نه وي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## هڅونه:

۱. ښوونکی دې د زده کوونکو په مخکې تیمم ووهي او وروسته دې له څو تنو زده کوونکو څخه وغواړي چې د نورو زده کوونکو په مخکې تیمم ووهي که کومه تیر وتنه ور څخه وشي زده کوونکي دې هغه اصلاح کړي.

## ارزونه:

۱. ښاغلی ښوونکی باید خپل ځان له زده کوونکو څخه په عملي آزموینه ډاډمن کړي چې د تیمم کولو طریقه یې زده کړې ده.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# د لمانځه مستحبات او مکروهات

**موخه:** دلمانځه له مکروهاتو او مستحباتو سره آشنايي.

**پوښتنې:**

۱. مستحبات او مکروهات يعنې څه؟
۲. د لمانځه مستحبات او مکروهات کوم دي؟

**مستحبات:**

د لمانځه مستحبات هغه شيزونه دي چې که لمونځ کوونکی په خپل لمانځه کې هغه سرته ورسوي، زيات ثواب لاس ته راوړي. مګر د واجبو په څير نه دی چې حتماً بايد سرته ورسيږي او که يې اداء نه کړي لمونځ يې باطليږي.

**د لمانځه مستحبات په لاندې ډول بيانيږي:**

۱. د لمانځه په اول کې د آذان او اقامت ويل.
۲. د واجب لمونځونو په دويم رکعت کې له حمد او سورت څخه وروسته د قنوت د دعا ويل.
۳. د حمد له سورت څخه مخکې د (**اعوذ بالله من الشيطان الرجيم**) ويل.
۴. په دريم او څلورم رکعت کې له څلورو تسبيحاتو وروسته د (**استغفر الله ربی و اتوب اليه**) ويل.
۵. رکوع ته له تللو څخه مخکې د تکبير ويل.
۶. له لمانځه څخه وروسته په ځانګړې توګه د بي بي زهرا د تسبيحاتو ويل.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## د لمانځه مکروهات:

د لمانځه مکروهات له هغو کارونو څخه عبارت دی چې په سرته رسولو یې د لمانځه ثواب کمیږي، مګر لمونځ نه باطلیږي. یو شمیر مکروهات په لاندې ډول بیانیږي:


۱. په لمانځه کې بدن ښي یا چپ لور ته کم کړول (که زیات کوږ شي لمونځ باطلیږي).

۲. په خپل لاس یا ږیره لوبې کول.

۳. د خولې لاړې توکول.

۴. د خلکو د خبرو د اوریدلو لپاره چپ کیدل.

۵. په تنګ اوداسه سره دلمانځه اداء کول.



**هڅونه:**

۱. په څو کسیزو ډلو وویشل شئ او دلوست د محتوی په هکله خبرې وکړئ.

۲. مستحبات او مکروهات په دوو ځانګړو لستونوکې ولیکئ.



**ارزونه:**

۱. ښاغلی ښوونکی دې د مستحباتو او مکروهاتو یو ګډ لست په تخته ولیکي او له زده کوونکو څخه دې وغواړي چې هغه په دوو بیلو کرښو کې وکاږي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# د قنوت دعا

**موخه**: د قنوت د دعا له څرنګوالي سره د زده کوونکو آشنائي.

**پوښتنې**:

۱. د قنوت دعا څه معنی لري؟

۲. د قنوت دعا څرنګه ویل کیږي؟

۳. کومه دعا په قنوت کې ویل کیږي؟

مرضیې د خپلې اسلامي ښوونې له ښوونکي څخه پوښتنه وکړه.

ښوونکی صاحب! دا چې خلک د لمانځه په منځ کې خپل لاسونه له بدن سره نږدې دآسمان لوري ته پورته کوي او په هغه وخت کې یوه ځانګړې دعا وایي د دغه کار نوم څه او په هغه وخت کې لمونځ کوونکی څه وایي؟

ښوونکي د مرضیې په ځواب کې وویل: هغه د قنوت دعا ده.

قنوت په لغت کې د عاجزۍ، حکم منلو او تسلیمیدو په معنی دی. او د دعا په معنی باندې هم دی. مګر په لمانځه کې قنوت یوې ځانګړې دعا ته ویل کیږي چې په دویم رکعت کې له قرائت څخه وروسته ویل کیږي.

په قنوت کې د هر ډول دعا ویل جواز لري. یوه له هغو دعاګانو څخه چې په قنوت کې ویل کیږي او په قرآن کریم کې هم ذکر شوې ده دا ده.

**(ربنا آتنا فی الدنیا حسنة و فی الآخرة حسنة و قنا عذاب النار)**



(c) ketabton.com: The Digital Library

په نبي کريم(ص) او په اولادونو يې درود ويل په قنوت کې فضيلت لري.

**(اللهم صل على محمد و آل محمد)**



**هڅونه:**

١. يو زده کوونکی دې د سهار لمونځ سره له قنوته اداء کړي.

٢. يو زده کوونکی دې د ماښام لمونځ سره له قنوته اداء کړي.



**ارزونه:**

١. زده کوونکي دې په دوه کسيزه ډلو وويشل شي او يو تن دې د قنوت دعا ووايي او نور دې هغه و ارزوي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

دولسم لوست

# د لمانځه ماتوونکي

**موخه**: د لمانځه له ماتوونکو سره دزده کوونکو آشنايي.

**پوښتنې**:

١. ماتوونکي څه معنی لري؟

٢. د لمانځه ماتوونکي کوم څيزونه دي؟

د لمانځه ماتوونکي له هغو کارونو څخه عبارت دي چې په سرته رسولو يې لمونځ باطلېږي.

## د لمانځه ځينې مهم ماتوونکي عبارت دي له:

١. په لمانځه کې خوړل او څښل.

٢. په زوره خندا کول.

٣. په لمانځه کې خبرې کول.

۴. له لمانځه څخه دبيروني کار سرته رسول.

۵. ښي يا چپ خوا ته په زياتې اندازې د بدن کږول.

۶. د دنيوي تاوان له مخې ژړا کول. که د الله تعالی له ويري او يا د الله تعالی سره د مينې او محبت له مخې وژاړي لمونځ يې نه باطلېږي بلکې ثواب لري.

٧. د لمانځه د رکنونو زياتوالی قصداً وي او که سهواً.

٨. په لمانځه کې له رکن پرته قصدا د بل شی زياتوالی.

٩. د دوه رکعتي يا درې رکعتي لمونځونو د رکعتونو په شمېر کې شک کول.



(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۰. د لمونځ کونکي د جامې غصبوالی.

۱۱. په پلیت او نجس بدن او جامی سره لمونځ کول.

**هڅونه:**

۱. د لمانځه ماتوونکي یاد کړئ.

۲. د پنځه کسیزه ډلو په ترڅ کې دلوست په محتوا خبرې وکړئ.

**ارزونه:**

۱. آیا زده کوونکو د لمانځه ماتوونکي پیژندلي دي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



# آذان او اقامت

**موخه**: د آذان او اقامت زده کول.

**پوښتنې**:

۱. ځوک آذان کولی شي؟
۲. آیا تر اوسه پورې مو اقامت ویلی دی؟

مسلمانان د هر لمانځه په پیل کې آذان کوي. هر وخت چې دجوماتونو له منارونو څخه د آذان آوازونه پورته شي مسلمانان د لمانځه لپاره ځانونه تیاروي او د جومات په لور خوځیږي.

په دغه لوست کې غواړو چې آذان او اقامت یاد کړو.

**آذان**:

آذان په لاندې ډول سره وایو:

الله اکبر ............................................**۴ کرته**
اشهد ان لااله الاالله ............................ **۲ کرته**
اشهد ان محمداً رسول الله.....................**۲ کرته**
اشهد ان علیاً ولیّ الله ..........................**۲ کرته** [1]
حی علی صلاة....................................**۲ کرته**
حی علی الفلاح...................................**۲ کرته**
حی علی خیر العمل.............................**۲ کرته**
الله اکبر.............................................**۲ کرته**
لاا له الاالله........................................**۲ کرته**

---

[1] دغه جمله د آذان او اقامت جزء نه ده بلکه د تبرک له مخی ویل کیږي.

کله چې وغواړو لمونځ اداء کړو له آذان ویلو څخه وروسته اقامت وایو.

اقامت له آذان سره دومره توپیر نه لري. په لاندې ډول بیانیږي، پر تله یې کړئ.

الله اکبر ....................................۲ کرته

اشهد ان لااله الاالله .................... ۲ کرته

اشهد ان محمداً رسول الله.............۲ کرته

اشهد ان علیاً ولیّ الله ...............۲ کرته

حی علی صلاة.............................۲ کرته

حی علی الفلاح...........................۲ کرته

حی علی خیر العمل.....................۲ کرته

قد قامت الصلاة..........................۲ کرته

الله اکبر.......................................۲ کرته

لاا له الاالله.................................۲ کرته

**هڅونه:**

۱. زده کوونکي دې آذان او اقامت یاد کړي.

۲. د آذان او اقامت توپیر بیان کړئ.

**ارزیابي:**

۱. زده کوونکي دې آذان او اقامت په ټولګي کې ووایې او ښوونکی دې نمرې ورکړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# د سهوې سجده

**موخه**: د سهوې له سجدې سره آشنايي.

**پوښتنې**:

۱. د سهوې سجده څه ته وايي.
۲. په کومو ځايونو کې بايد د سهوې سجده وکړو؟


که له لمونځ کوونکي شخصه په لمانځه کې کومه تيروتنه او اشتباه وشي دلمانځه په اخر کې به دوه سجدې کوي له هغه وروسته به تشهد وايي او سلام به ګرځوي. چې دغه سجدو ته د سهوې سجده ويل کيږي.

د سهوې په سجده کې دا کلمات وايو:

(**بسم الله و با الله السلام عليک ايها النبي ورحمت الله و برکاته**).

په پنځو لاندنيو ځايونو کې د سهوې د سجدې اداء کول لازميږي:

۱. د لمانځه په منځ کې سهواً او په تيروتنی سره خبرې کول.
۲. د تيروتنې له مخې بې ځايه سلام ګرځول.
۳. **د تشهد هيرول** په لمانځه کې.
۴. که په څلور رکعتي لمانځه کې هير کړي چې څلور رکعته يا پنځه رکعته يې اداء کړي دي.
**۵**. کله چې يوه سجده ترې هيره شي.



**هڅونه**:

۱. د سهوې د سجدې اذکار حفظ کړئ.
۲. د سهوې د سجدې د لازم والي ځايونه ياد کړئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# د جماعت لمونځ

**موخه**: د جماعت لمونځ سره آشنا کیدل.

**پوښتنې**:

۱. د جماعت لمونځ څه معنی لري؟

۲. د جماعت لمونځ څرنګه اداء کیږي؟

اسلام د يووالي او وروروليۍ دين دی اوپه جماعت سره د لمانځه اداء کولو ته په درنه سترګه ګوري. په جماعت سره لمونځ اداءکول د مسلمانانو د يووالي ښکارندوی دی. کله چې مسلمانان خپل ورځني لمونځونه په امام پسې اداء کوي او په هغه پسې اقتداء کوي دې ته دجماعت لمونځ وايي.

د جماعت په لمانځه کې امام له نورو خلکو څخه مخکې دريږي او نورلمونځ کوونکي وروسته اقتداء کوي، يعنې اول به نيت تړي. د بېلګې په توګه، نيت مې کړی دوه رکعته د سهار لمونځ اداء کوم اقتداء مې کړې په دې حاضر امام پسې خاص د الله تعالی د رضا لپاره. له دې څخه وروسته به امام د حمد او توحيد سورتونه قرائت کوي. هغه خلک چې په ده پسې يې اقتداء کړې قرائت به نه وايي. خو په نورو ټولو کارونو کې به د امام پيروي کوي، يعنې د حمد او توحيد سورتونه به نه وايي اونور به ټول ذکرونه د رکوع، سجدې، تسبيحات، تشهد، سلام او داسې نور وايي.

د جماعت امام بايد دوه خصلتونه ولری:



(c) ketabton.com: The Digital Library

۱. عادل وی یعنی د ګناه کولو څخه دې ډډه وکړی.

۲. لمونځ په صحیحه توګه ادا کړی.

**هڅونه:**

۱. د جماعت لمونځ څه ارزښت لري؟

۲. زده کوونکي دي عملاً د جماعت لمونځ اداء کړي؟



(c) ketabton.com: The Digital Library

# واجب لمونځونه

**موخه**: له واجبو لمونځونو سره آشنا کیدل.

**پوښتنې**:

۱. آیا پوهېږئ چې واجب لمونځونه څو دي؟
۲. آیا د آیات لمونځ له واجبو لمونځونو څخه دی؟

واجب لمونځونه هغه لمونځونه دي چې باید مسلمان هغه ادا کړي او که چیرته کوم کس دغه لمونځونه ترک او ونه کړل هغه ګنهګار دی. واجب لمونځونه شپږ دي.

۱. د هرې ورځې لمونځونه: هر مسلمان په شپه او ورځ کې باید پنځه لمونځونه ادا کړي.
۲. د آیات لمونځ: د آیات لمونځ دوه رکعته دی چې د سپوږمۍ او لمر د تندر نیولو په وخت او ځیني نورو حالاتو کې ادا کیږي.
۳. د جنازې لمونځ: کله چې مسلمان مړ شي مخکې د خښولو څخه هغه ته غسل ورکول کیږي او په دغه مړی د جنازې لمونځ ادا کیږي.
۴. د بیت الله شریف د طواف واجب لمونځ.
۵. د پلار قضایي لمونځ چې په مشر زوی واجب دی.
۶. هغه لمونځونه چې د اجارې، نذر، قسم او وعدی په واسطه واجبیږي.
کیدی شي د دغو لمونځونو یوه برخه په مفصله توګه سره په دې درسونو کې ولولو.

**هځونې**:

۱. واجب لمونځونه په خپلو کتابچو کې ولیکې او په تکرار سره یې مطالعه کړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# دریم فصل:آداب او اخلاق

اوو لسم لوست:

## اخـــلاق

**موخه**: له ښو اخلاقو سره د زده کونکو آشنايي.

**پوښتنې**:

۱. ښه اخلاق څه معنی لري؟
۲. څرنګه کولی شو چی ښه اخلاق ولرو؟

یوه ورځ د اسلامي ښوونې په ساعت کې چې محمد حسن او عبدالحمید یو د بل تر څنګ ناست وو او د ښوونکي خبروته یې غوږ نیولی وو، ښوونکي وویل: زما دوستانو! که د ټولنې وګړي ښه اخلاق ولري هیڅکله به جګړې او دښمنۍ نه پیداکیږي او نه به ستونزې را ولاړیږي.

عبدالحمید چې ځیرک زده کوونکی و، وویل: ښوونکی صاحب! ښه اخلاق چې د نیکمرغۍ لامل دي څه شی دي او کوم شیان لري؟

ښوونکي ځواب ورکړ: اخلاق د خُلقْ جمع ده. خُلقْ په لغت کې ښه خوی او عادت ته ویل کیږي . په دې توګه ښه اخلاق د ښه خوی او ښه عادت په معنی دي.

انسان کولی شي چې ښه خویونه ولري او هم کولی شي چې بد خویونه ولري.

داسلام سترلار ښود محمد مصطفی(ص) فرمایلي دي (( انی بعثت لاتمم مکارم الاخلاق))

ژباړه: زه د دې لپاره استول شوی یم چې ښه خویونه خلکو ته و ښایم. نو که ښه ځیرشو د نبی کریم(ص) د رسالت موخه د ښو او لوړو خویونو خپرول او رواجول وو.



(c) ketabton.com: The Digital Library

البته ښه خويونه هغه شيان دي چې له نن ورځې څخه بايد د هغو نهال او تخم ستاسو ګرانو زده کوونکو په روح کې ځای پر ځای شي. ښه خويونه دا دي چې زده کوونکي د ادب خاطر وکړي. مشرانوته سلام واچوي. له بدو خبرو او کنځلو څخه ځان وساتي. دروغ ونه وايي او په نورو خلکو پسې بدې خبرې ونه کړي ژر په غوسه نه شي. د غوسې په وخت کې له کنترول څخه ونه وځي. يوله بل سره بد چلن ونه کړي بلکې يو له بل سره مينه او محبت ولري. يو له بل سره په ورين تندي او خندا مخامخ شي. له هغو کارونو او خبرو څخه چې د خلکو د آزار سبب کيږي ځان وساتي. يوله بل سره مرسته وکړي. او د ضعيفو او ناتوانو خلکو سره کومک وکړي، د مور، پلار، ښوونکي او مشرانو قدر، عزت او احترام وکړي. خپل ځان اود خپل چاپيريال نظافت او پاکۍ ته پاملرنه وکړي.



**هڅونه:**

۱. د لوست لنډيز په لسو کرښوکې وليکئ.
۲. د لوست د محتوي په باره کې خپل نظرونه وليکئ او په صنف کې يې ووائی.



**ارزونه:**

۱. آيا زده کوونکو د ښو خويونو معنی زده کړې ده؟
۲. آيا دغه لوست د زده کوونکو په کړو وړوباندې اثر کړی دی؟



(c) ketabton.com: The Digital Library

# ســـلام اچــول

**موخه**: د سلام اچولو له ارزښت سره آشنايي.

**پوښتنې**:

۱. سلام اچول په اسلام کې څه ارزښت لري؟

۲. د سلام ادبونه کوم دي؟

محمدعلي چې د ښوونځې د څلورم ټولګي زده کوونکی دی، ډیر با ادبه ځوان دی. ټول ټولګیوال يې ورځخه خوشحاله دي او د ده د ښوخويونو او ادب ستاينه کوي. ځکه کله چې محمدعلی له خپلو ټولګیوالو سره مخامخ کيږي لومړی هغوی ته سلام اچوي، هغه په دې باور لري چې سلام اچول خوشحالي لاس ته راوړي، سلام د سولې او محبت ځلی دی. سلام اچول نوروخلکوته د ښه نيت ښکارندوی دی. په دې معنی چې زه له تا سره مينه لرم، د ستا په حق کې ښه نيت لرم او ستا لپاره خوښي او خوشحالي غواړم.

ښوونکي محمدعلي ته ويلي وو چی سلام اچول د زيري او اميد سره يوځای دی. هغه وخت چی د الله (ج) خبر وړونکي حضرت ابراهيم (ع) ته راغلل په داسې حال کې چې په ځيروکې يې د زيري او اميد بښونکو وعدو نښانې له ورايه ځليدې په حضرت ابراهيم(ع) يې سلام وکړ.


يوه ورځ چې نبی کريم (ص) خپلو ملګروته د سلام په باره کې خبرې کولې ويې ويل: آيا خوښوئ چې د دنيا او آخرت د خلکو ترټولو غوره خويونه درته بيان کړم؟ اصحابو کرامو وويل ای د الله رسوله! هغه څه شی دي؟



(c) ketabton.com: The Digital Library

**نبی کریم(ص) وفرمایل**:هغه ښه خوی یو او بل ته په لوړ اواز سره سلام اچول دي.

**حضرت علی (رض) فرمایلي دي**: پـه سلام اچولـوکې او یـا ښـیګڼې او برکتونـه دي. چې **۲۹** نیکۍ یې د سلام اچوونکي او یوه د هغه چا لپاره ده چې ځواب یې وایي.



**هڅونه**:

**۱** . د نبي کریم (ص) د خبرو په هکله یو لـه بـل سره خبرې وکړئ او خپـل نظرونه بیان کړئ؟

**۲** . د سلام اچولو د ارزښت په باره کې یوه مقالـه ولیکـئ چې ترپنځو کرښو کمه نه وي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

نولسم لوست:

# د مخامخ کېدو ادبونه

**موخه**: د لیدلو او مخامخ کیدلو د ادبونو له ارزښت سره آشنايي.

**پوښتنې**:

۱. د لیدلو او بیا لیدلو ادبونه څه معنی او څه ارزښت لري؟
۲. د لیدلو او بیا لیدلو ادبونه کوم دي؟

په اسلام کې له یو بل سره د مسلمانانو په ښو اړیکو او ټگ راټگ ډیر ټینګار شوی دی. دغه اړیکي په یو لړ بنسټونو باندې ولاړې دي چې د مسلمانانو تر منځ د اړیکو د لاټینګښت موجب کیږي. په قرآن کریم او د نبی کریم(ص) په احادیثو کې ډیر ټینګار شوی دی، چې مسلمانان باید یو له بل سره ښې اړیکې ولري. دا یو څرګند حقیقت دی چې که د کورنۍ د غړو تر منځ اړیکې په ښو او رغنده بنسټونو، نه وي ولاړې، نه یوازې دا چې ښې پایلې نه لري، بلکې د جګړو او نا آرامیو سبب کیږي. د دې په اساس باید څیرشو چې الله (ج) د ښو او نیکو اړیکو لپاره کوم بنسټونه غوره کړي دي.

اسلام زموږ لپاره قانون غوره کړی دی، که څوک و غواړي، چې د بل چا کور ته ننوزي لومړی باید اجازه واخلي، کله چې د کور خاوند د ننوتلو اجازه ورکړه بیا



(c) ketabton.com: The Digital Library

کولی شي، چې په ډېر ادب، احترام او د سلام په اچولو د هغه کورته ننوځي. که د کورخاوند اجازه ورنه کړه، پرته له دې چې خفه شي، باید بیرته و ګرځي.

ځینې له هغو ادبونو څخه چې له خپلو مسلمانو ورونو او خویندو سره د مخامخ کیدو په وخت کې باید مراعات کړو عبارت دي له:-

١. د مخامخ کیدو په صورت کې باید په نرمو او خوږو کلمو خبرې وکړو.

٢. د بل چا په خبروکې ور ونه دانګو، بلکې خپل نوبت ته انتظار وباسو.

٣. د نورو خلکو خبرې غوږ نه کړو.

۴. د نورو سپکاوی و نه کړو.

۵. په مجلسونو کې د نورو خلکو غیبت و نه کړو.

٦. د روغ ونه وایو او په هیچا پسې بیځایه خبرې و نه کړو.

٧. د مشرانو قدر او ادب وساتو.



(c) ketabton.com: The Digital Library

**فعالیت** :

۱. له خپلوانو سره لیدنه کتنه څه ارزښت لري؟

۲. د اسلام دین له خپلوانو سره په لیدنه کتنه کې څه نظر لري؟

**ارزونه:**

۱. آیا زده کوونکو د ښو خویونو د بنسټونو ارزښتونه په خپلو لیدلو او مجلسونو کې موندلي دي؟

۲. آیا زده کوونکي د لوست ارزښتناک ټکي زده کړي او هغه یې په خپلو کارونو کې عملي کړي دي؟



(c) ketabton.com: The Digital Library

شلم لوست

# له بې ګټو خبرو څخه ځان ساتل

**موخه**: د بې ګټو خبرو پیژندل او له هغو څخه ځان ساتل.

**پوښتنې**:

١. بې ګټې خبرې کومې دي؟
٢. څرنګه کولی شو چې له بې ګټو او بې ځایه خبرو څخه ځان و ساتو؟

ژبه د انسان د و جود له ارزښناکو غړو څخه ده. ژبه کولی شي چې انسان د دنیا او آخرت خوشحالیو او یا بد مرغیو ته ورسوي.

**ګناهونه، لکه**:

دروغ، غیبت، چغلي، کنځل. د خلکو سپکاوی او داسې نور ټول د ژبې په واسطه سرته رسیږي انسان کولی شي چې د خپلې ژبې په واسطه د الله (ج) ثناء او صفت و وایي او الله (ج) ته زاری وکړي. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دي: د مؤمن انسان له صفتونو څخه یو دا دی چې بې ګټې خبرې نه کوي او له هغو څخه ځان ساتي.

همدارنګه کیدای شي چې د انسان ژبه ناوړه و کاریږي یا خو باید انسان و پوهیږي چې څرنګه د خپلې ژبې ساتنه وکړي.

بې ګټې او بې ځایه خبرې څه شی دي؟ بې ځایه خبرې هغه دي چې هیڅ ګټه نه لري. ښایي ځینې خلک مو لیدلي وي چې په مجلسونو کې له هرې خوا خبرې کوي او خلک خندوي. دغه بې ځایه خبرې نه یوازې دا چې ګټه نه لري بلکې دغه هغه بې ځایه خبرې دي چې په قرآن کریم کې په بد نوم یادې شوې دي هغه خبرې چې د



(c) ketabton.com: The Digital Library

کينې او دښمنۍ سبب کيږي ډيري بدې او انسان بايد له هغو څخه ځان و ساتي.
مؤمن انسانان پوهيږي چې د دوی ټول کارونه الله (ج)ويني او له ټولو کارونو څخه يې خبر دی له دې کبله دوی داسې کار سرته نه رسوي چې د الله (ج) د غوسې سبب شي. مسلمان ته نه ښايي چې خپل عمر په بې ځايه خبرو باندې تير کړي.

**هڅونه:**

۱. د بې ځايه خبرو په هکله خپل نظرونه وليکئ.

۲. د بی ګټو خبرو زيانونه په خپلو کتابچو کې وليکئ.

**ارزونه:**

۱. آيا زده کوونکي له بې ګټو خبرو څخه د ځان ساتنې ارزښت زده کړی دی؟

۲. آيا زده کوونکي عملا له بې ګټو خبرو څخه ځانونه ساتي؟



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

يو ويشتم لوست

# نظافت او پاکوالی

**موخه**: د نظافت او پاکوالي له ارزښت سره آشنايي.

**پوښتنې**:

١. نظافت او پاکوالی څه ارزښت لري؟
٢. تاسې چې کله ميوه خورئ آيا هغه مينځئ؟

محمد د دريم ټولګي زده کوونکی دی. هغه خپل لوست وايي او يو کوښښي زده کوونکی دی. هغه هر وخت د نا پاکو شيانو له خوړلو او څښلو څخه ډډه کوي.

محمد چې يوه ورځ له خپل ټولګيوال، سخي سره يو ځای له ښوونځي څخه د کور په خوا را روان وو، هغه سخي وليد چې په نا پاکو او نا مينځلو لاسونو د مڼې په خوړلو بوخت دی.


**محمد له سخي څخه و پوښتل**: سخي جانه! دغه مڼه دې له خوړلو څخه مخکې مينځلې وه؟ **سخی جان وويل**: نه مينځلې مې نه وه، مګر په دسمال مې پاکه کړې وه.

**محمد ورته و ويل**: سخي جانه! داسم کار ندی. که مېوه ونه مينځل شي ميکروب لري او انسان ناروغ کوي. انسان بايد نا پاکه او ميکروبي شيان و نه خوري ترڅو د هر وخت لپاره جوړ او تندرست وي.

**سخي پوښتنه وکړه**: په خوړلو او څښلو کې پاکي څه معنی لري؟

**محمد ځواب ورکړ:** د نا پاکو او نا مینځلیو شیزونو له خوراک څخه چې ځان و ساتو، همدغه پاکي ده.

لیکن تا زموږ د مهربان پیغمبر دا خبره نه ده اوریدلې (النظافة من الایمان) پاکوالی د ایمان برخه ده. نو باید هر وخت پاک و اوسو، خپل ځان پاک و ساتو، د خپلو غاښونو پاک ساتلو له پاره په ورځ کې څو ځله مسواک استعمال کړو، خپل ویښتان ږمنځ کړو، خپل کالی په ښه توګه و مینځو، خپل د اوسیدلو کور او کوټه پاکه او سوتره وساتو، د خپل کور ناپاک شیان په کوڅه او د کور په چاپیریال کې و نه غورځوو.



**هڅونه:**

۱. هغه کارونه چې د ځان، جامو، کور او کوڅې په هکله سرته رسوئ په لاندې جدول کې یې ولیکئ:

| ګڼه | د ځان په هکله | د جامو په هکله | د کور په هکله | د کوڅې په هکله |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | | | | |
| ۲ | | | | |
| ۳ | | | | |
| ۴ | | | | |
| ۵ | | | | |
| ۶ | | | | |



(c) ketabton.com: The Digital Library

# د روغتیا ارزښت


**موخه**: د روغتیا له ارزښت سره آشنائي.

**پوښتنې**:

۱. روغتیا څه ارزښت لري؟
۲. څرنګه کولی شو چې خپله روغتیا وساتو؟

د الله تعالی له نعمتونو څخه یو هم د بدن روغتیا ده. د بدن د روغتیا او امنیت دټینګوالي نعمت هغه نعمتونه دي چې تر څو مو له لاسه نه وي ورکړي په ارزښت یې نه پوهیږو. موږ باید خپل ځانونه ، جامې او دژوند چاپېریال پاک وساتو او هره ورځ سپورت وکړو، تر څو زموږ روغتیا خوندي پاتې شي. پاکوالی زموږ د روغتیا او جوړوالي ضمانت کوونکی دی. پاک او سوتره انسان د ټولو خوښېږي او هیڅ وخت ناپاکو او زیان لرونکو شیانو ته لکه: نسوار، سګرټ اوداسې نورو ته مه نږدې کیږي. ځکه چې له یوو پلوه د انسان روغتیا ته تاوان رسوي اوله بله پلوه انسان معتاد کوي. پاک او سوتره انسان هر وخت غواړي چې پرمختګ وکړي او دخپل هیواد د پرمختګ جوګه شي، تر څو د خپلې اسلامي ټولنې د وګړو لپاره د خدمت بنسټ شي او د ټولو وګړو ورسره مینه پیدا شي.

ښه انسان غواړي چې بدن او روح دواړه یې جوړ او روغ وي. کله چې ناجوړه شو اود روغتیا له نعمت څخه محروم شو بیا نه شو کولی چې پر مختګ وکړو.



**هڅونه**:

۱. د روغتیا ارزښت په څو کرښو کې ولیکئ.
۲. د روغتیا د له منځه تللو لاملونه کوم دي؟

دروېشتم لوست

# له غريبانو سره مرسته کول

**موخه**: له غريبانو سره د مرستې له ارزښت سره آشنايي.

**پوښتنې**:

١. آيا غريبان مرستې ته اړتيا لري؟

٢. آيا تر اوسه مو له غريبانو سره څه مرسته کړې ده؟

په هره ټولنه کې غريب او اړ کسان وجود لري، خو زموږ په ټولنه کې زيات وګړي او کورنۍ شته چې مرستې او لاس نيولو ته اړتيا لري. د اسلام مبارک دين مسلمانان هڅولي دي، چې له غريبانو سره مرسته وکړي. داسلام په ښوونځي کې د مرستې د ارزښت په هکله لاندې کيسه په غور سره لولو:

امام حسن او امام حسين د کوچنيوالي په وخت کې ناروغ شول.

نبي کريم(ص) د يوې ډلې اصحابو کرامو سره د دوی پوښتنې ته راغی او له علی(رض) څخه يې وغوښتل چې دهغوی د جوړوالی لپاره څه شی په خپل ځان نذر کړي. امام علی، فاطمة الزهرا او فضې چې د دوی خدمتګاره وه دا يې په خپلو ځانونو نذر کړل، چې که حسن او حسين روغ شول نو درې ورځې به روژه نيسي. زيات وخت تيرنه شو چې دوی دواړه روغ شول دوی د خپل نذر د پوره کولو په نيت روژه ونيوله، د روژه ماتي په وخت کې يو غريب کور ته راغی او ويې ويل:



(c) ketabton.com: The Digital Library

"**السلام علیکم یا اهل البیت رسول الله**" یعنې سلام دې وي پر تاسو ای دالله د رسول کورنۍ. د غریبانو له ډلې څخه یم، ماته خواړه راکړئ. دوی ټولو غریب سړي له ځان څخه مخکې کړ او خپله ډوډۍ یې هغه ته ورکړه او په هغه شپه یې پرته له اوبو څخه نور څه ونه څښل.

په دویمه ورځ یې هم روژه ونیوله. د روژه ماتې په وخت کې یو یتیم کورته راغی او ډوډۍ یې وغوښتله. په هغه ورځ باندې یې هم خپله ډوډۍ هغه یتیم ته ورکړه او خپله روژه یې په اوبو ماته کړه. په دریمه ورځ یې هم روژه ونیوله. د روژه ماتې په وخت کې بندي کور ته راغی او ډوډۍ یې وغوښتله. په دغه ورځ باندې یې هم خپله ډوډۍ بندي ته ورکړه.

د دغې ورځې سبا ته کله چې سهار شو حضرت علی(رض) حسن او حسین تر لاس ونیول او د نبي کریم(ص) په حضور کې حاضر شول. کله چې نبي کریم(ص) دوی په داسې حال چې د لوږې څخه لړزیدل ولیدل، ویې فرمایل:

دغه حالت چې په تاسو یې وینم زغملی یې نه شم. نو نبي کریم(ص) له دوی سره یوځای پاڅیدل او د امام علی(رض) د کور په لور روان شول.


کله چې کور ته ننوتل و یې لیدل چې بې بې فاطمه(رض) په محراب کې په عبادت ولاړه ده، خو لوږې د دې مبارکې په څیره او مبارکو سترګو اثر کړی و. نبی کریم(ص) د دغو حالت له لیدلو څخه ډیر پریشانه شو. په دغه وخت کې د «انسان» د سورت دغه آیتونه نازل شول.



(c) ketabton.com: The Digital Library

وَيُطْعِمُونَ الطَّعَامَ عَلَى حُبِّهِ مِسْكِيناً وَيَتِيماً وَأَسِيراً{٨} إِنَّمَا نُطْعِمُكُمْ لِوَجْهِ اللَّهِ لَا نُرِيدُ مِنكُمْ جَزَاءً وَلَا شُكُوراً{٩}

**ژباړه**: غريب، يتيم او بندي ته ډوډۍ ورکوي. او وايي چې موږ د الله **تعالی** د خوښۍ لپاره ډوډۍ ورکوو. له تاسې څخه يې اجر او ثواب نه غواړو.



**هڅونه**:

١. پورتنۍ کيسه ووايئ اوپه لسو کرښو کې يې په لنډه توګه وليکئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**